مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

مصطفی پسرلی

۲۰۲۰/۰۸/۲۳

# غزل

لټومه نوي لارې د جانان د زړه په کور کښې
پښتنه مینه ګالمه، د وجدان د زړه په کور کښې

د ژوندون نغمې پیکه دي، د مطرب ساه په وتو ده
د شپونکي د شپېلۍ غږ دی، د ارمان د زړه په کور کښې

پیوستون رنګونه اخلم د وصال کرښې راکاږم
زه سرو شونډو یم چیچلی، د درمان د زړه په کور کښې

د حیا نه ټیټو سترګو مې په زړه ایښې داغونه
ماسودا د سر منلې، د تاوان د زړه په کور کښې

پسرلېه ستا سرې سترګې، ستا د زړه حالونه وایي
زړه مې درد کوي بیلتونه، د هجران د زړه په کور کښې

مصطفی پسرلی
23/08/2020



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ